**Kuhandazh Natural Sciences and Social Sciences**

**Volume (13), Issue 1, 1405 (2026)**



# The Sale of Istisna‘ in the Light of Hanafi Jurisprudence

**Obidul Rahman Yousufi,[1*] Abdul Hanan Abid[1]**

1- Department of Islamic Studies and Culture, Faculty of Education, Kunduz University.

*Corresponding author :**Emil** : obaidulrahmanyousufi@gmail.com، **Tel:** 0775385441

## Article Info / Abstract

Pp: 1-12
Article Type: Review .
Article History:
Received: 1405/1/15
Accepted: 1405/2/5
Published online: 1405/3/28

**Keywords:**
conditions,
jurisprudence,
Istisna,rulingssale
,

This research is about the contract of Istisna‘ (manufacturing contract) discussed in the light of Hanafi jurisprudence. It presents the evidences for its legitimacy, the opinions of Hanafi jurists, related discussions, and conclusions. This topic is among the important issues because people need Istisna‘ contracts, as they help facilitate people's lives and solve many problems. Some individuals need certain items to be manufactured, but such items may not be available in the community; others possess skills but are in need of money. Through the Istisna‘ contract, these problems can be solved for both sides.The purpose of this research is to make more people aware of the Hanafi scholars’ views and the related rulings of the Istisna‘ contract. This research is qualitative and based on textual analysis, benefiting from various theoretical books. It covers the definition of Istisna‘, evidences for its permissibility, the opinions of Hanafi jurists, its conditions of validity, and the rulings related to Istisna‘. In the end, the research concludes that the Istisna‘ contract is permissible according to Hanafi scholars, supported by evidence from the Qur’an and Prophetic Sunnah, and they have also transmittedpracticalconsensusregarding it.

Copyright 1405 Authors. Published by: Kunduz University.
Website: https://www.kundoz.edu.af/

Kuhandazh Natural Sciences and Social Sciences
Volume (13), Issue 1, 1405 (2026)

# د استصناع بیع د حنفي فقهې په رڼا کې

پوهنمل عبیدالرحمن یوسفي [۱*] ، پوهنمل عبدالحنان عابد [۱]

۱ د کندز پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی،د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې غړې
*ایمیل نویسنده مسؤل : obaidulrahmanyousufi@gmail.com ، تلیفون: ۰۷۷۵۳۸۵۴۴۱

**تاریخچه / نچوړ**

ص ص: ۱-۱۲
نوع مقاله: مروری
تاریخ دریافت: ۱۴۰۵/۱/۱۵
تاریخ پذیرش: ۱۴۰۵/۲/۵
تاریخ انتشار: ۱۴۰۵/۳/۲۸
**واژه های کلیدی:** احکام، استصناع، بیع، شرطونه، فقه.

دا څېړنه د استصناع د بیع په اړه ده او د استصناع بیع دېته ویل کېږي چې مشتري له بایع څخه د یو ځانګړي څیز د جوړولو غوښتل دي په ځانګړي توګه چې د صانع دلاس به جوړ وي چې د حنفي فقهې په رڼا کې پرې بحث شوی او د مشروعیت په اړه یې دلایل او د حنفي فقهاوو نظرونه، مناقشه او پایله ذکر شوي دي. او دا مو ضوع له خورا مهمو مو ضوعاتو څخه ده چې د ا ستصناع بیع ته انسانان اړتیا لري او له دې لارې د دوی د ژوند اسانتیاوې رامنځته کیږي او ستونزې یې له منځه ځي هغه دا چې ځینې انسانان د څیزونو جوړولو ته اړتیا لري خو په ټولنه کې نه موندل کیږي او بیا ځینې نور مهارتونه لري خو پیسو ته اړتیا لري نو د استصناع د تړون له لارې به د ټولو ستونزې حل شي او د دې څېړنې موخه هم دا ده چې ډېری خلک به د استصناع بیع په اړه د حنفي پوهانو له نظرونو او اړوند احکامو څخه خبر شي. او دا څېړنه کیفي ده او ډول یې کتابتوني دی چې له بیلا بیلو تیوریکو کتابونو څخه پکې ګټنه شوې ده چې په دې څېړنه کې د ا ستصناع بیع پېژندنه او د مشروعیت دلایل او په اړه یې د حنفي فقهاوو نظرونه، د صحت شرطونه او د ا ستصناع بیع اړوند احکام ذکر شوي دي او په پای کې دې نتیجې ته رسیږو چې د استصناع بیع د حنفي پوهانو په نزد جایز ده چې په قرآن کریم او نبوي سنتو یې استدلال کړی او په اړه یې عملي اجماع هم نقل کړې..

حق نشر نویسندگان. 1405 . منتشرشده توسط. پوهنتون کندز.
وب سایت: https://www.kundoz.edu.af/

**سریزه**

إنَّ الْحَمْدَ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بالله مِنْ شُرُورِ أَنْفُسنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

لکه څنګه چې انسان په دنیا کې ژوند کوي او په دنیوي ژوند کې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ډیرو تړونونو ته اړ کیږي چې له دغو تړونونو څخه یو هم د استصناع تړون دی چې په دې سره د انسانانو د ژوند کارونه اسانه کیږي او د دوی لپاره د ژوند اسانتیا وي برابریږي او دا د پخوانیو تړونونو څخه دی چې د خلکو د ژوند ظروف د دې غوښتنه کوي له دې امله چې د ځینو انسانانو د ځیزونو جوړولو ته اړتیا پیدا کیږي چې باید دغه شیان په داسې طریقه او کیفیت جوړ شي چې دا یې غواړي او اراده یې لري په داسې حال کې چې ډیری به جوړ شوي وي خو په هغه کیفیت چې دا یې غواړي په ټولنه کې به نه موندل کیږي. همدارنګه نور انسانان چې مهارتونه لري خو پیسو ته اړتیا لري نو له دې لارې به د دوي اړتیاوي هم پوره شي او همدارنګه دده نفس به مطمئن شي او د زیانمنېدو او د نه خرڅېدلو ویره به ورسره نه وي نو له همدې امله دا یوه مهمه بیع ده چې په حنفي فقه کې ورته مشروعیت ور کړل شوی دی.

د څېړنې موخه: په پښتو ژبه کې د حنفي فقهې په رڼا کې د استصناع بیع په اړه د لیکنې نشتون او د خلکو ورته اړتیا او زما موخه د دغې اړتیا پوره کول دي، تر څو لوستونکې د استصناع بیع په اړه د حنفي پوهانو له نظرونو او د استصناع بیع د صحت له شرطونو او اړوند احکامو څخه خبر شي.

د څېړنې شالید: په پښتو ژبه کې داسې کتاب شتون نه لري چې د استصناع بیع د حنفي فقهې په رڼا کې تر عنوان لاندې ورباندې پوره بحث کړی وي، خو په نورو ژبو کې ځینې کتابونه شتون لري چې د استصناع بیع په اړه یې د حنفي پوهانو نظرونه او اړوند احکام ذکر کړي وي، لکه امام سرخسي په المبسوط، امام کاساني په بدائع الصنائع، او مرغیناني په هدایه کې خو دا څېړنه د دغه کتابونو سره یو څه توپیر لري چې په دې څېړنه کې د استصناع بیع په اړه یوازې د حنفي فقهاوو نظرونه او اړوند احکام له دغو او نورو کتابونو څخه نقل شوي.

**د څېړنې تګلاره**

د دې څېړنې په لیکلو کې له کتابتوني کړنلارې څخه ګټه اخیستل شوې ده او د څېړنیزو بنسټونو په رڼا کې د مأخذونو څخه د استفادې په وخت کې د امانتدارۍ اصل په پام کې نیول شوی دی.

**د استصناع بیع پېژندنه**

**د استصناع لغوي پېژندنه**

استصناع په وزن د استفعال باندې دی چې ثلاثی یې صنع دی او الف او سین په کې د طلب لپاره دي لکه استغفار د مغفرة د طلب لپاره دی

او استصناع په لغت کې د یو څیز د کولو طلب ته وایي ( طلب فعل شيء ) ( ابن منظور، ۱۴۱۴ه ق، ج ۸ ص ۲۰۹).

د استصناع اصطلاحي پېژندنه

استصناع په اصطلاح کې: امام کاساني رحمه الله د استصناع بیع داسي راپېژندلي: (هو عقد علی مبیع في الذمة شرط فیه العمل ) (کاساني، ۱۴۰٦ه ق، ج ۵، ص۲ ).

ژباړه: دا په مبیعي باندې تړون دی چې د بل په ذمه به وي او عمل به په کې شرط شوی وي.

او په فتح القدیر کې کمال الدین ابن الهمام د استصناع بیع تعریف داسي کړی چې استصناع د یو څیز د جوړولو غوښتل دي چې صانع ته ووایي دا څیز راته په داسي شکل او داسي اوصافو جوړکړه او د پیسو یادونه په کې وکړي او صانع ورسره دا تړون ومني که پیسي یې ورکړي وي او کنه ( ابن الهمام، ۱۹۹۸م، ج۷، ص ۱۱۴ ).

استصناع د هغو بیعو له ډلي څخه ده چې تسلیمول په کې روستو وي.

او ځینو نورو د استصناع بیع داسي را پېژندلي چې استصناع د یو ځانګړي څیز د جوړولو غوښتل دي په ځانګړي توګه چې د صانع دلاس جوړ وي(عثماني، ۱۴۳٦ه، ج۱، ص۵۸۵ ).

او داسي یې هم تعریفولی شو چې مشتري د بایع څخه د یو څیز د جوړولو غوښتنه وکړي چې د خپلو موادو څخه به یې په ځانګړي توګه جوړوي چې د ده پر غاړه به وي او په بایع باندې هغه پیسي لازمیږي چې په کومو یې اتفاق کړی وي

**د استصناع بیع د مشروعیت دلایل**

د استصناع د بیع تړون د امام ابو حنیفه رحمه الله او صاحبینو په نزد باندې جایز دی چې د قرآن کریم په آیتونو او نبوي سنتو یې استدلال کړی او په اړه یې عملي اجماع هم نقل کړي.

له کتاب الله څخه: د ذی القرنین واقعه ده چې په سورت کهف کې الله تعالی له هغې څخه یادونه کړې: قَالُوا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَى أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا (سورت الکهف: ۹۴).

ژباړه: هغو خلکو وویل چې ’’ای ذوالقرنینه! یا جوج او ما جوج پدې سیمه کښې فساد خوروي، نو ایا مونږ تاته ددې له پاره څه محصول درکړو چې ته زمونږ او دهغو په مینځ کښې یو بند واچوې؟،،

د استدلال طریقه: دوی له ذوالقرنین څخه غوښتنه وکړه چې د دوی لپاره دیوال د هغه مال په مقابل کې جوړ کړي چې دوی به یې ذوالقرنین ته ورکوي. او دا بعینه استصناع ده. او دا واقعه په قرآن کریم کې پرته له انکار څخه ذکر شوي چې د استصناع په مشروعیت او جواز باندې دلالت کوي.

له سنتو څخه : د استصناع د جواز لپاره دلیل دا هم دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د منبر او مهر جوړولو غوښتنه وکړه چې په اړه یې لاندې روایتونه او نور د احادیثو په کتابونو کې نقل شوي.

عن سهل بن سعد رضي الله عنه قال أرسل رسول الله صلى الله عليه وسلم الى فلانة امرأة من الانصار سماها سهل: مرى غلامک النجار أن يعمل لى أعوادا أجلس عليهن اذا كلمت الناس فأمرته فعملها من طرفاء الغابة ثم جاء بها فأرسلت الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فأمر بها فوضعت ههنا (بخاري، ۱۴۱۴ ه ق، ج ۱، ص ۹۷).

ژباړه: د سهل بن سعد رضي الله عنه څخه نقل شوي فرمايي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو یوې ښځې ته چې سهل نومیده جواب ولیږه چې خپل نجار غلام ته امر وکړه چې زما لپاره له لرګیو څخه یو منبر جوړ کړي چې زه پرې کښېنم کله چې خلکو ته خبرې کوم. نو غلام ته یې امر وکړ او د ځنګل له څنډو څخه یې ورته جوړ کړ او رایې وړ بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ولیږه نو هغه ورته امر وکړ او هلته یې کېښود.

عن أنس رضي الله عنه قال: لمّا أراد النبي صلى الله عليه وسلم أن يكتب الى العجم، قيل له: ان العجم لايقبلون الاّ كتاباً عليه خاتم، فاصطنع خاتماً (ترمذی، ۱۴۱۲ه ق، ج۲، ص ٦٣).

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه نقل شوي وايي: کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم غوښتل چې عجمو ته لیک واستوي نو چا ورته وویل: چې عجم لیک نه مني مګر چې مهر ورباندې وي نو مهر یې جوړ کړ. او ظاهر دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله جوړ نکړ بلکې د بل چا نه یې د جوړولو غوښتنه وکړه.

د اجماع څخه دلیل: امام برهان الدین رحمه الله ویلي: زموږ په نزد استصناع جایز ده ځکه د خلکو تعاملورباندې جاري دی ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وخت څخه تر نن ورځ پورې خلک په دې ځیزونو کې د استصناع عمل ترسره کوي او هیچا یې نه انکار کړي او نه یې رد کړي نه د صحابو او نه له تابعینو څخه او دا عملی اجماع ګڼل کیږي ( ابن نجیم، ب ت. ج ١٦، ص ۴۴۲ ).

همداراز د استصناع د بیع لپاره دا حدیث هم د استدلال وړ دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «ما رآه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن» ( ابن حنبل، ب ت. ج۱، ص ۳۷۹ ).

ژباړه: هغه څه چې مسلمانان ورته ښه وايي نو هغه د الله تعالى په نزد هم ښه وي. او استصناع د مسلمانانو په نزد ښه ده نو دا به ښه وي ( أبوالمعالي، ۱۴۲۴ه ق، ج۷، ص ۱۳۵ ).

او د احنافو په مذهب کې صحيح دا ده چې استصناع محظ وعده نه ده بلکي تړون دی څکه امام محمد بن الحسن رحمه الله په دې کې قياس او استحسان ذکر کړی او دا دواړه په وعده شوي کې نه جاری کيږي، او دا يې په هغه څه کې جايز کړی چې په هغه کې د خلکو تعامل وي پرته له هغه چې تعامل په کې نه وي، او که چيرته دا وعده وی نو په ټولو کې به جايز شوی وی، او دا يې په اخيستلو سره نومولی، او داسي يې ويلي: کله چې مستصنع وليده نو هغه اختيار لري، څکه د هغه څه واخيستل چې لېدلي يې نه دي، او څکه چې صانع د پيسو مالک د هغې په قبض کولو سره گرځي، او که چېرې دا يواځې وعده شوی وی نو د پيسو مالک شوی به نه وی.

بيا د دې تړون په کيفيت کې د حنفي فقهاوو تعبيرات مختلف دي. صاحب د هدايه وايي دا له اول څخه بيع منعقد کيږي او معقود عليه عين مصنوع دی، پرته له عمل څخه، او معدوم ته ځينې وخت د موجود حکم اعتبار ورکول کيږي (مرغيناني، ۱۴۱۲ ه ق، ج ۳، ص ۸۵ ). او ابن الهمام د هغې لاندې وايي: چې شارع معدوم ته د موجود اعتبار ورکړی، او دې ته ورته په شرع کې ډېر دي، لکه: د مستحاضې پاکوالی او د ذبح کوونکې کله چې بسم الله يې هيره کړې وي او د مقتدي قرائت او داسي نور ( ابن الهمام، ۱۹۹۸م، ج٦، ص ۲۴۲).

او نور بيا وايي چې دا په ابتدا کې اجاره ده او تسليمولو ته نږدې بيع منعقد کيږي، لکه چې ابن همام له ذخيره څخه نقل کړي او امام برهان الدين په محيط کې ذکر کړی وايي چې په ابتدا کې اجاره منعقد کيږي او په اخر کې د تسليمولو څخه يو ساعت مخکې بيع گرځي، په دې دليل کله چې صانع د عمل تسليمولو څخه مخکی مړ شي نو استصناع باطليږي، او مصنوع به د هغه له ترکې څخه نه پوره کيږي، که چيرې په ابتدا او انتها کې بيع منعقد شي نو بيا به په مرگ سره نه باطلېدلی، لکه د عين او سلم بيع کې، او امام محمد رحمه الله ويلي: کله چې صانع په هغه سامان سره راتگ وکړ نو مستصنع اختيار لري، څکه داسي سامان يې اخيستلی چې لېدلی يې نه دی، او که چېرې ابتدا او انتها کې اجاره منعقد شي نو بيا ورته د لېدلو اختيار نشته لکه په خياطي او رنگمالي کې، او که د تسليمولو په وخت کې بيع منعقد کېدلی يو ساعت مخکې هم نو بيا ورته د لېدلو خيار نه ثابتيږي؛ څکه ده هغه څه واخيستل چې لېدلي يې دي. نو پوهه شو چې په ابتدا کې اجاره منعقد کيږي اگر که قياس ورڅخه انکار کوي؛ څکه دا په هغه عمل باندې اجاره ده چې د آجر په ملکيت کې دي، بيا د تسليمولو څخه يو ساعت وړاندې بيع گرځي اگر که قياس ورڅخه انکار کوي چې اجاره دې بيع وگرځي، خو موږ د تعامل له امله په ټولو کې قياس پرېښودی، او موخه په کې دا ده چې مستصنع ورڅخه د عمل او عين دواړو غوښتنه کړې، نو پکار ده چې ټولو ته اعتبار ورکړل شي او ټولو ته

اعتبار ورکول په یو وخت کې متعذر دی؛ ځکه د اجارې او بیع ترمنځ منافات دی نو موږ په ابتدا کې اجارې ته جواز ورکړ ځکه د معقود علیه نه شتون د اجارې انعقاد نه منع کوي او د بیع انعقاد منع کوي؛ نو په ابتدا کې مو اجارې ته اعتبار ورکړاو د تسلیمولو څخه یو ساعت وړاندې بیع وګرځوله ترڅو دواړو کارونو ته خپله برخه شامله شي، لکه چې داسي موږ په هغه هبه کې کوو چې عوض په کې شرط شوی وي نو په ابتدا کې تبرع ته اعتبار ورکوو چې په لفظ باندې عمل وشي او په انتها کې بیع ته ترڅو په معنا عمل وشي ( أبوالمعالي، ۱۴۲۴ه ق، ج ۱۰، ص ۳۶۴- ۳۶۵ ).

د استصناع د عقد لزوم او نه لزوم په اړه د حنفي فقهاوو نظرونه:

سرخسي رحمه الله په مبسوط کې ذکر کړي دي چې د استصناع عقد لازم نه دی په دې معنا چې هر یو د متعاقدینو څخه یې فسخ کولی شي لکه په شرکت او مضاربت کې ( سرخسي، ۱۴۱۴ه ق، ج ۱۲، ص ۱۳۹ ).

آیا په مستصنع باندې یې قبلول لازم دي که صانع په غوښتل شوي صفاتو سره جوړ کړی وي؟ په دې کې د حنفي فقهاوو ترمنځ اختلاف شتون لري.

امام ابو حنیفه او محمد رحمهما الله ویلي: مشتري د لیدلو اختیار لري نو د واپس کولو حق هم لري ځکه هغه څه یې اخیستلي چې لیدلي یې نه دي او د ظاهر روایت په اساس صانع لپاره اختیار نشته، او امام ابویوسف رحمه الله ویلي: که چېرته صانع په هغه شرط شوو صفاتو باندې جوړ کړی و نو بیا یو ته هم اختیار نشته. په شرح مجلة کې داسي راغلي کله چې د استصناع تړون وشو نو یو ته هم د واپس کولو اختیار نشته خو که مصنوع په غوښتل شوو صفاتو جوړ شوی نه و نو بیا مستصنع ته د واپس کولو اختیار شته (الأتاسی، ب ت. ج ۲، ص ۴۰۷ ). امام کاساني رحمه الله ویلي: د امام ابویوسف رحمه الله د قول دلیل دادی: چې صانع هغه سامان له منځه وړی څرمن یې پرېکړي او په شرط شوو صفاتو سره یې کار تر سره کړی؛ نو که مستصنع یې وانه خلي نو په دې کې به د صانع لپاره ضرر وي. او بیا امام کاساني رحمه الله د طرفینو قول ته ترجیح ورکړې او ویلي یې دي: د امام ابویوسف رحمه الله دا قول صحیح دی چې که مستصنع ته اختیار ورکړل شي نو صانع متضرر کیږي خو که مستصنع ته اختیار ورنکړل شي نو دده ضرر د بایع له ضرر څخه ډیر دی؛ ځکه که دا مصنوع دده د خوښي مناسب نه وي او پیسي ورڅخه وغوښتل شي نو دا ممکن نه ده چې مصنوع په بل باندې په مثل نرخ باندې خرڅ کړي، او صانع داسي نه دی ځکه دا یې ډیر جوړوي او همدا یې کسب دی، او بل دا که مستصنع یې په پیسو کې تاوان وکړي او اړتیا یې پوره نه شي نو د څه لپاره چې استصناع مشروع شوي هغه نه حاصلیږي چې هغه د اړتیا پوره کول دي خو ځینو روستنی حنفي علماوو فتوا ورکړي چې په دواړو باندې د استصناع عقد لازم دی او دیته تمرتاشي او

حصکفی په تنویرالأبصار او درالمختار کې تګ کړی چې صانع به په عمل مجبورولی شي او او آمر ورڅخه رجوع نشي کولی ( کاساني، ۱۴۰٦ه ق، ج ۴، ص ۹۵ -۹٦ ).

**د استصناع د صحت شرطونه**

لومړی شرط: د معقود علیه جوړولو ته به اړتیا وي.

دویم شرط: معقود علیه به په صفاتو سره وټاکي نو د یو معین بذاته سامان استصناع جایز نه ده لکه د ټاکلي موټر او دېته ورته نور ( سرخسي، ۱۴۱۴ ه ق، ج ۱۲، ص ۱۴۰ ).

همدارنګه امام کاساني رحمه الله په بدائع الصنایع کې وایي چې د مصنوع جنس اندازه او صفت به ذکر کوي ځکه له دې پرته دا نشي معلومېدلی ( کاساني، ۱۴۰٦ه ق، ج ۵، ص۳ ).

درېیم شرط: باید استصناع په هغه څه کې منعقد شي چې د استصناع تعامل به په کې وي او جوړول به یې ممکن وي ځکه که جوړول یې ممکن نه وي نو بیا دا د معدوم په حکم کې دا خلیږي ( ردالمحتار ۱۴۱۲هـ ق، ج ۱۵، ص ۴۰۳ ). او د تعامل څخه مراد د ډیرو خلکو تعامل دی که د پخواني خلکو تعامل وي او که د اوسني خلکو تعامل وي ( أفندي، ۱۳۲۵ه ج ۲، ص ۱۲۴ ).

**د استصناع بیع اړوند احکام**

**لومړی: د مصنوع احکام**

مصنوع باید د هغو صفاتو موافق وي په کومو چې دواړو اړخونو توافق کړی وي، او په ټاکلي څیز سره د استصناع تړون جایز نه دي چې له وړاندې جوړ شوی وي.

کله چې تړون د صفاتو په اساس تر سره شي خو د تسلیمولو وخت کې هغه څیز راوړي چې له وړاندې جوړ شوی وي که معقود علیه د صفاتو موافق و نو دا جایز ده.

همداراز ځینو نورو ویلي: که صانع بل مصنوع یا هغه مصنوع چې د تړون څخه وړاندې جوړ شوی وي راوړي نو صحیح ده (ابن عابدین،۱۴۱۲هـ ق، ج ۱۵، ص ۴۰۹).

مصنوع د تسلیمولو څخه وړاندې د صانع ملک دی له دې امله فقهاوو ذکر کړي چې ده لره جایز دي چې په بل چا یې خرڅ کړي، خو مناسب دا ده چې جایز ده خو په دې شرط جې صانع د هغې په مثل تسلیمولو باندې په خپل وخت سره وتوانیږي. (ابن عابدین،۱۴۱۲هـ ق، ج ۱۵، ص ۴۰۹ ).

مصنوع د تسلیمولو څخه ترمخه مضمون علیه دی نو د هغه ساتل او حفاظت د صانع پرغاړه دي نو که د تسلیمولو څخه وړاندې له منځه لاړ نو د صانع د مال څخه به له منځه ځي.

مستصنع ته جایز نه دي چې ورته تسلیم شوی نه وي او خرڅ یې کړي. له دې امله جې مصنوع د تسلیمیدلو څخه وړاندې د صانع ملک دی.

د مصنوع په تسلیمولو سره د صانع غاړه خلاصیږي.

کله چې مصنوع د تسليمولو په وخت کې د هغو صفاتو موافق نه وو نو مستصنع کولی شي چې پرېږدي او يا يې په دغه ساعت قبول کړي او طرفين کولی شي چې په قبليدلو باندې يې صلح وکړي اگر که د پيسو په کمولو سره وي خو که د صفاتو موافق وو نو مستصنع ته د لېدلو اختيار نشته. مخکې له نيتې يې تسليمول جايز دي په دې شرط چې د دغه صفاتو مطابق وي.

کله چې مستصنع له کوم دليل پرته د مصنوع له قبضولو څخه منعه شي سره له دې چې په قبضولو يې قادره وي نو مصنوع به د صانع په لاس کې امانت وي، او د ساتلو مصارف به يې په مستصنع وي (ابن عابدين،۱۴۱۲هـ ق، ج ۱۵، ص ۴۰۹ ).

**په ابادیو کې استصناع**

په ابادیو کې د استصناع لپاره دوه صورته شتون لري:

لومړی صورت: زمکه د مستصنع ملک وي او د زمکې مالک د گيلکار څخه وغواړي چې په زمکه ورلره ابادي جوړه کړي څنگه يې چې تصميم لري؛ نو که ټول مواد د زمکې د خاوند وو نو دا د اجارې عقد دی او د اشخاصو د اجارې احکام پرې تطبيقيږي. او که مواد د کاريگر وو نو دا استصناع ده او که ځيني لږ د کاريگر وو نو د اجارې حکم اخلي او دا په هغه قياس کيږي چې فقهاوو ذکر کړي لکه چې کاتب اجاره کړي يا رنگ کوونکی اجاره ونيسي چې په خپل رنگ به يې رنگ کوي. او که ډېر مواد د کاريگر وو نو ظاهر دا ده چې دا استصناع ده ( أبوالمعالي، ۱۴۲۴ه ق، ج۱۱، ص ۲۸۹ ).

دويم صورت: چې زمکه د صانع ملک وي او مستصنع ورڅخه غوښتنه وکړي چې کورونه يا دوکانونه پرې جوړ کړي او بيا ورته منزلونه يا اپارتمانونه يا مکاتب د جوړيدلو څخه روستو وسپاري نو دا جايز دي د استصناع په شرطونو سره خو ځيني خلک يې د جوړولو، سرته رسيدلو او تسليمولو وړاندې خرڅوي نو دا جايز نه دي ځکه د تسليميدلو څخه وړاندې د مستصنع ملک نه دی بلکې دا د هغه څه خرڅول دي چې انسان يې مالک نه دی او دا د حديث په نص سره ممنوع دي (عثماني، ۱۴۳٦ه، ج۱، ص٥۹٦ ). همدارنگه د عامه سرکونو او پلونو يا نورو ابادیو جوړولو غوښتنه هم يو ډول استصناع ده او دا هم جايز ده ( عثماني، ۱۴۳۸ه، ج۲، ص ۱۳۱ ).

**دويم: د استصناع د پيسو احکام**

۱- د استصناع پيسي به د تړون په وخت کي معلومي وي

۲- لازم نه دي چې پيسي به معجل سمدستي وي لکه په سلم کي بلکي جايز دي چې معجلي وي يا په نيته وي او يا قسط وار وي يا د پيسو قسطونه په مختلفو مراحلو پوري تړاو ولري.

۳- پيسي چې ورکړل شوي وي د صانع ملک به وي او له پيسو څخه دده لپاره فايده او گټه اخيستل جايز دي او زکات يې هم په ده واجب دی خو دا مضمون عليه دی په دې معنا که په يو سبب د

اسبابو عقد فسخ شو نو په ده باندې د پیسو واپس کول لازم دي. ( ابن نجیم، ب ت. ج ۷، ص ۵۱۱ ).

۴- د استصناع پیسي به منفعت واله وي او لازم نه دي چې عین به وي. ځکه منفعت د دې وړ دی چې په بیع او اجاره سره پیسي شي مثال: دا غلام مې د یو کال د کور په منافعو په تا خرڅ کړ نو دا د غلام په حق کې بیع ده او د کور په برخه کې اجاره ده ( ابن نجیم، ب ت. ج ۵، ص۴۶۴ ).

او دا هم جایز ده چې منفعت اجره د منفعت شي کله چې مختلف الجنس وي لکه د کور اوسیدلو اجاره د زمکي په کرلو سره؛ ځکه د یو جنس په یواځي والي توګه سره قرض حرامیږي ( ابن نجیم، ب ت. ج ۷، ص۵۰۸ ).

۵- د استصناع پیسو اندازه کول د مرابحي په اساس باندې جایز نه دي.

٦- که چېرته د وخت حالاتو د دې غوښتنه کوله چې د استصناع پیسي زیاتي او یا کمي شي نو دا د دواړو اړخونو په اتفاق جایز دي لکه د سمنتو یا اوسپني نرخ لوړ شي.

۷- په عقد کې د جزائی شرط باندې اتفاق جایز دی که صانع د مصنوع تسلیمول روستو کړي نو د هغي پیسي د روستووالي په مقابل کې کمیږي لکه چې مستأجر خیاط ته ووایي که نن دې وګنډلې نو په یو درهم او که صبا نو نیم درهم او دا د امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله په نزد جایزدی ( ابن نجیم، ب ت. ج ۸، ص۵۴ ). همدارنګه د جزای شرط جواز ته شیخ المشایخ تهانوی رحمه الله هم تګ کړی ( تهانوی، ب ت. ج۳، ص ۳۹۸ ).

**د استصناع د عقد پای ته رسېدل**

د استصناع تړون به په یو له دري لارو پای ته رسیږي چې په لاندې ډول دي:

**لومړی**: په پوره تر سره کولو چې صانع مستصنع ته مصنوع په پوره توګه څنګه یې چې پري اتفاق کړی وي تسلیم کړي او مستصنع صانع ته هغه ټاکلي پیسي تسلیم کړي.

**دویم**: په اقالي سره هم د استصناع عقد پای ته رسیږي چې یو له تړون کوونکو څخه یو له بل سره اقاله وکړي یعني له تړون څخه ورته تیر شي او تړون فسخ کړي.

**دریم**: په مرګ سره چې یو له عاقدینو څخه وفات وکړي نو د استصناع تړون هم پای ته رسیږي ( کاساني، ۱۴۰٦ه ق، ج ۵، ص۴ ) او ( ابن الهمام، ۱۹۹۸م، ج ۵، ص ۳۵٦ ).

**پایله**

د دې څېړنې له ژوري مطالعي څخه لاندې پایلې لاس ته راځي. د استصناع بیع له خورا مهمو بیعو څخه ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وخت څخه تر اوسه پوري په استصناع د خلکو تعامل جاري دی او له دې لاري د خلکو د ژوند ډېری ستونزي حل مومي. د استصناع بیع د یو څیز د جوړولو غوښتل دي چې مستصنع صانع ته ووایي دا څیز راته په داسي شکل او داسي اوصافو

جوړکړه او د پيسو يادونه په کې وکړي او صانع ورسره دا تړون ومني. د استصناع بيع د احنافو په مذهب کې جايز ده او په جواز يې ګڼ شمير دلايل شتون لري. د استصناع بيع لپاره ځانګړي شرطونه په نظر کې نيول شوي دي. د مصنوع او د استصناع د پيسو اړوند پوره احکام فقهاوو ذکر کړي.
د استصناع تړون په يو له دري لارو پای ته رسيږي په پوره تسليمولو يا اقالي او يا د يو په وفات سره.

**دسرچنو لړليک**

قرآن کريم

أبو المعالي، برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (۱۴۲۴ هـ - ۲۰۰۴ م). المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفه رحمه الله ج ۱۱بيروت – لبنان: دار الكتب العلمية،

ابن حنبل، احمد بن محمد بن حنبل ( ب ت ). مسند الامام احمد. بيروت: دارالكتب العلمية.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (۱۴۱۲هـ). رد المحتار على الدر المختار. بيروت: دار الفكر.

ابن الهمام، سيواسي كمال الدين ( ۱۹۹۸م ). فتح القدير. بيروت - لبنان: مطبعه احياء التراث العربي.

ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم. (ب ت ). البحر الرائق شرح كنز الدقائق. بيروت: دار الكتب الاسلاميه.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين الأنصاري ( ۱۴۱۴ه ق). لسان العرب ج ۸ بيروت: دار صادر.

ألأتاسي، محمد خالد. ( ب ت ). شرح المجلة. سوريه: مطبعه حمص.

أفندي، محمد أمين. ( ۱۳۲۵ه ). مجموعة رسائل ابن عابدين. اسطنبول: دارالسعادت.

بخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي ( ۱۴۱۴ ه ق). صحيح البخاري ج ۱ . بيروت: دار طوق النجاة .

ترمذي، محمد بن عيسى أبو عيسى ( ۱۴۱۲ه ق ). الجامع الصحيح سنن الترمذي. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

تهانوي، اشرف على ( ب ت ). امداد الفتاوى. كراتشى پاكستان: مكتبه معارف القرآن.

سرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة (۱۴۱۴هـ ). المبسوط . بيروت: دار المعرفة .

عثماني، محمد تقى ( ۱۴۳۶ه). فقه البيوع على المذاهب الاربعه. كراتشى پاكستان: مكتبه معارف القرآن.

عثماني، محمد تقى ( ۱۴۳۸ه). بحوث فى قضايا فقهية معاصرة . كراتشى پاكستان: مكتبه معارف القرآن.

كاساني، علاء الدين أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي (۱۴۰٦هـ ). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. بيروت لبنان: دار الكتب العلمية.

مرغيناني،علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني أبو الحسن برهان الدين (۱۴۱۲ه ق ) الهداية في شرح بداية المبتدي. بيروت لبنان: دار احياء التراث العربي.